






د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نیټه : ۸ می ۲۰۱۳ میلادی

# هو! هغه ناوه کې

نن بيا هماغه شپه ده

هماغه ناوه کې

هماغه د هيلو

هماغه د اميدونو

چې ما سره تر سهاره

يوزاې ژړيده

هو! هغه ناوه کې

چې له ماسره به يې

سلګۍ وهلې

کله به ما پخلا کوله

کله به هغې پخلا کولم

کله به دواړه غلي وو

هو! هغه ناوه کۍ

چې هره شېبه يې زما زړه

په منګولوکي نيوه

کله به يې ژړاوه

کله به يې خندا وه

کله به يې لېراوه

هو! هغه ناوه کۍ

چې ويل به يې

زما په چپتيا کې

ځان مه را نغاړه

کله به يې له ځايه جګ کړم

کله به يې په ځای کې ټينګ کينولم

کله به يې له خوښی نه

په هوا کړم

هو! هغه ناوه کۍ

چې هڅولم به يې

چې سربه په ديوال ټکوم

چې له هرلوري به

ځان هيرومه ورته

نن بيا هماغه شپه ده

هماغه ناوه کۍ

هماغه د هیلو

هماغه د امیدونو

چې ماسره تر سهاره

یوازې ژړیده

*****

مجیب الرحمن « خطیبي »

کابل ـ افغانستان

بازگشت به صفحه اصلی ـ www.said-afghani.org